مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

اسماعیل لاروی

۲۰۲۳/۱۲/۲۰

خدایه داسې یو وطن به دې هم جوړ و

خدایه داسې یو وطن به دې هم جوړ و
چې له دې دنیا نه لرې وای، ډېر لرې
دومره لرې چې هیڅ شناخت یې تر منځ نه وای
ان چې نه راتلی د دې دنیا کوترې
...
داسې ملک وای چې ټیګور پکې پاچا وای
مولانا پکې د ټول وطن امام وای
چې قاضي پکې سقراط وای، یا منصور وای
افلاطون له جمهوریته جوړ نظام وای
...
شین ځنګل او کروندې او شنه باغونه
ښکار په ټولو روایاتو کې حرام وای
ژوند تر ټولو بهترینه سرمایه وای
فرض د ټولو مخلوقاتو احترام وای
...
موسیقي وای، هنرونه وای او لوبې
انسانیت په هر مسلک کې یو مضمون وای
عدالت مو د قانون هره ماده وای
عاطفې مو پیغامونه د ژوندون وای
...
چې چاپلین د ماشومانو وای روزونکی
کتابونه یې لاسو کې د جبران وای
په هر کور کې راته ناست نوشیروان وای
او قومي مشر د ټولو غفار خان وای
...
سمندر پکې وهلی خپله لاره
لمر صحنې د ظلم هیڅ نه وای لیدلې
هوا نه وای غشي، توري زخمي کړې
وای مو ځمکه له جنته هم ویاړلې
...

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

وای د هغه ملک وګړي دغه خلک:
چې دي ستړي له سیاست او فریبونو
استبداد یې وینې زبېښې یا زبېښلې
دا چې دلته اواره دي په ملکونو
...
دا دنیا دې بیا چنګېز ته مبارک وای
خیر دلته که بیا هر سړی قارون وای
د فرعون له خدایي به وو موږ لرې
او نمرود دې ستا دوښمن خوار او زبون وای
...
سره پاتې دې دنیا کې هغه ټول وای
چې د یو و بل داړلو نه کړل ستړي
چې په ظلم یې هیڅ تنده نه ماتېږي
دا له شر او له فریبه جوړ وګړي
...
خدایه داسې یو وطن به دې هم جوړ و
بس له دې دنیا چې بېل یو بل جهان وای
اوسېدلی پکې ستا بېنوایان ټول
پوره کړی دې زموږ دا یو ارمان وای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ